تکنه ۱۱
کال ۱۳۴۷
۱۳۴۷
دلو (۱۱)
2/69

کاڼاړی

د پخوانی کندهار (یعنی پخوانی زاړه ښار) د نارنج د قصر، چهل زینی او لخشك د غره د ډوې برخی ښکلی تابلو چی د کندهار د لرغونی تمدن ستر مظهر دی. د لته د منظری په ختیځه خواکی د پخوانی زاړه ښار شرقی لویه دروازه هم لیدل کیږی

ددې ګڼې مضامین

د ډبری صنعت . د پشتی ۲ مخ
شپه د پشتی ۳ مخ
د آریانا د واکدارانو ۱ مخ
د ګرمسیر جغرافیائی-
وضع ۷ «
ګلمکی ۱۱ «
چاته وژاړم ۱۳ «
دادب وږمې ۱۴ «
دنفوسو ... ۱۹ «
دخندا پلوشی ۲۲ «
ضرورت او تصادف ۲۳ «
زما امید ۲۶ «
دهیواد معروف .. ۲۷ «
دهوا ... اوژوند ۲۸ «

کندهار

۱۳۴۷ لمریز کال د سلواغی میاشت

د ډبری صنعت

د ډبری صنعت د تاریخ په ادوارو کی ډېر زوړ تاریخ لری او د هغه څخه د شیانو جوړول د انسانانو لومړنی ابتکار دی د ځینو لرغونو آثارو او تاریخی لېکنو له مخی معلومېږی چی دی صنعت د انسانانو د ژوندانه په لمړنیو مرحلو کی مهم رول درلود څو وروسته له ډېرې مودی کرار، کرار متمدینو هیوادو د عقلی او فکری قواؤ په برکت د دې لرغونی صنعت د انکشاف او تکامل په لاره او همدا راز د تولید د پراخولو په ملحوظ ئې د ماشین آلاتو په وسیله په زړه پوری تغیرات او پر مختګونه راوستل او بشر ته د عصر د ایجاباتو سره سم د اقدرت میسر شو چی خپل ټول کارونه په تخنیکی سیستم سره تر سره کړی نو لدی کبله وینو چی نن ورځ په متمدینو هیوادو کی نه یوازی په مختلفو رنګونو د ډبرو څخه ډول، ډول شیان جوړیږی بلکه د معمارانو د ذوق له مخی د تعمیراتو لپاره په فنی ډول ښکلی، ښکلی پارچی جوړوی څو له دغی لاری د خپل اقتصادی بنیاد مزی ټینګ کړی.

څنګه چی جغرافیائی محیط د هرې ټولنی پر توسعه او تکامل باندی ستره اغېزه لری نو دا هم باید وویل شی چی د هر هیواد صنعت هغه وخت ترقی کوی چی د مساعدو شرایطو او پیداوارو له مخی ئې تولیدی فعالیت د تولیدی آلاتو او وسایلو په مرسته خپل تکاملی سیر تر سره کړی او د تولیداتو ګراف لوړ بوزی نو طبعاً د عرضی او تقاله مخی خارجی اسعار لاس ته راوستلای شی.

څرنګه چی زموږ ګران هیواد افغانستان مخ پر انکشاف روان دی، د معادنو په لحاظ هم تر یو حده غنی او د هیواد په اکثرو مناطقو کی ډول، ډول کانونه موجود دی چی په کندهار کی هم د قیمتی ډبرو څو ډوله کانونه سته، لکه امیتس (لعل پیازی) توره ټیکه د خاکریز مصوری ډبری او د شاه مقصودی ډبری کان چی د اخلو رواړه نه یوازی په داخل کی د هیواد ډېر ارزښت لری بلکه په خارج کی هم د دې ډبرو علاقمندان ډېر دی چی د کمیت او کیفیت په لحاظ ئې اوس د دې ډبرو کارګران مخ پر زیاتیدو دی، د یادونی وړ خبره داده چی په کندهار کی د اوسنی شرایطو له مخی د اصنعت د تولیدی معیار د اوچتولو په لحاظ چندانی د ډاډ وړ نه دی دا ځکه چی د کارګری طبقی اقتصادی بنیه ئې کمزوره د استخراج او استحصال قدرت ئې په انفرادی توګه نه لری نو د تاریخ نه د پخوانیو صنعت ګرانو په څېر بیله تخنیکی آلاتو او اسبابو څخه ډول ډول شیان دوګړو د استفادی په غرض جوړوی او تر اوسه پوری د لاسی صنایعو په ردیف کی راځی که ودې صنعت ته په تخنیکی شکل وسعت ورکړه شی د یوې خوابه زموږ یو شمېر خلګو ته د کار زمینه مساعده شی او د بلی خوابه له دغه مدرک نه خارجی اسعار لاس ته راشی.

نو ځکه د کانو او صنایعو د وزارت خاصه توجه پدې برخه کی راګرځول غواړو او هیله لرو چی د مربوط مقاماتو او زموږ د شتمنو کسانو په ګډه مرسته دغه صنعت تقویه شی.

«۳»

د آریانا د واکدارانو پخوانی سلسله

مقدونی سکندر په ډېره بېړه دهرات وحدودوته ځان ورساوه، ساتی برزانت لومړی وهرات ته دسکندر دننوتلو مخه ونه نیوله هر کله چی مقدونی دباختر پرخوارهی شو، نودغه نومړی دده ترشالار بنده کړه سکندر بیرته دې ته اړشو چی هرات ته راسی نو ترڅه کشمکش وروسته ساتی برزانت دکندهار پرخوا راوتېدی نو هغه مهال چی وکندهار ته نژدی سکندر په رام رود کی اوسیدی نو بیرته ساتی برزانت بله پلا پر هرات یرغل وروړ اوهرات ئې بیرته لاسته راوست، سکندر مجبوره شو یوه زړوره اوغښتلی ټولی عسکر ئې دده دمقابلی دپاره هرات ته ولېږله، دی دنتیجی ترمعلومیدو

پوری په آریا اسپ (رام رود) کی ؤ، ساتی برزانت ناکامه شو مگر سره له ناکامی ناامیده نه سو، په پای کی هغه مهال چی سکندر په کندهار کی ؤ، ساتی برزانت دلبسوس په کومك سره بیا هرات ونیوی داپلا سکندر یوه لویه عسکری قوه دده ومقابلی ته ولېږله، په پای کی د ډېرو سختو جگړو په نتیجه کی ساتی برزانت دخپل وطن دآزادی په لار کی جار شو.

✡✡✡

بارزائنتس

دمقدونی سکندر دیرغل په مهال کی بارزائنتس دکندهار او سیستان حاکم و، ددغو سیمو دلښکرو سره سره دسکندر په مقابل کی ددارپوش دلښکرو سره یوځای شو، د داریوش ترماتی وروسته بارزائنتس وخپل وطن ته راستون شو اودمقدونیانو ددفاعی مقابلی په ترتیباتو بوخت شو، مگر د سکندر د مقابلی په ترڅ کی بندی ونیول شو اودخپلی خاوری پر آزادی باندی جار شو.

✡✡✡

لومړی دیودوت

لومړی دیودوت د سکندر ترمړنی وروسته لمړی سړی ؤ چی په ۲۵۵ یا ۲۵۰ق،م کال ئې په باکتریانه (باختر) کی د استقلال اعلان وکی، باختری میشت شوی یونانیان ئې دآریانا دولایو حکمرانان کړل، تر

ده وروسته دده زوی دوهم دیودوت علاوه پر بریکتریانه هرات هم ونیوی او تر

(۲۳۰ق،م) پوری ئې پاچهی وکړه.

✡✡✡

ایوتیدموس

تر دوهم دیودوت وروسته ایوتیدموس میدان ته راووت، ده د سلوس شامی پاچا انتیوکوش وهجوم او

لښکر وته لومړی دهرېود په سواحلو کی، او بیا د بلخ په شاوخوا کی ماتی

ورکړه، اود خپل وطن استقلال ئې وساته، همدغه رنگه ایوتیدموس پر کابل او کندهار باندی دهندی موریائی امپراطوری سلطی

ته خاتمه ورکړه، دغه د آریانا ولایات ئې آزاد

کړل، اود خپل مملکت د شرقی جنوب وسرحد ته ئې

پراهنه ورکړل، ایوتیدموس نومړی په ختیځ کی تر پامیر پوری ورسیدی په پای کی ئې کاشغر، یارکند او ختن

هم ونیول، په لویدیځ کی هم تر هریرود تیرسو، او ترسوزیا (ننني طوس) پوری مخ ته ولاړ .

✡✡✡

دمتریوس

دغه نوموړی د ایوتیدموس زوی و، په (۱۹۰ق،م) کال دپلار تر مړنی وروسته وپاچهی ته ورسیدی، دې دخپلی کورنی یوځلمی فعال کارګر او جدی غټ قوماندان دی چی دپلار دفتوحاتو لمن ئې پسی ارته کړه، هغه مهال چی تا کسیلا ئې خپل مرکز وټاکی، د

خپلو معروفو دوو قوماندانانو (منا ندر) او (اپولودوت) په سبب ئې دهند د راجپوتانه صحراو دواړو خواوته دهند د موریایی پاچهانو تر پای تخت تاپتا لی پو ترا (ننني پتنه) او اوجن (لوپدیځی مالوه) پوری مخ ته ولاړ او هغه سیمی ئې دخپلو متصرفاتو ضمیمه کړ لی .

دغو فتوحات په (۱۷۵ق،م) کال پای ورسېدل .

✡✡✡

ایوکراتید

ایوکراتید دخپلو جګړو په نتیجه کی په (۱۶۸ق،م) کال د ایوتیدموس پر کورنی بری وموند باختر ئې خپل لاس ته را وست دده ټوله عمر هم په جګړو اویرغلو کی تیرشو .

✡✡✡

کوشانیان

دآریانا دباختری یونانو وروستنی پاچا هیلوکلس دی چی تراوکراتید وروسته ئې پر ټوله هندوکش سلطنت کړی دی، دده په دوره کی په ۱۳۵ق،م کال کی داسکائیانو دیرغل اوهجوم په سبب دباختری یونانو دسلطنت مرکز دهندوکش په جنوب کی وکاپیسا

ته رانقل شو، تردغه وروسته دآریائی اسکائی تکمو د آریانا پر مختلفو سیمه لاس برشو، ددې په وروسته یو چی قبیلو اسکائیان د هندوکش و جنو بی سیموته وشړل په پای کی د کوی شوانګ « کوشان » قبیله پرروی کار شوله ، کجولا کدفیزس د دوی رئیس په ۳۰م ترهندوکش تیرشو، د باختری یونانو سلطنت ته ئې خاتمه ورکړه .

✡✡✡

ویما کدفیزس

په ۷۸م کاوکی ترپلار وروسته کجولا کدفیز د اقتدار واکی په لاس کی ونیولی ، ده دخپل قلمرو حدود عین تر هند پوری

ورسول، او په چین کی ئې د تارام د دریاب تر حوزی پوری خپل سوقیات پر مخ بوتلل ، ده په خپل ختیځ قلمرو کی دپنجاب تر نیولو وروسته دګنګا رودفتح کی اوتر بنا س پوری مخ ته ولاړ.

✡✡✡

لوی کنشکا

دغه حکمران د کدفیزس تر کورنی وروسته د ۱۲۲ او ۱۵۲۴ میلادی کلو په ما بین کی دآریاناوسلطنت ته ورسیدی .

دغه ستر امپراطور د آریاناوحدت وساته دخپلو فتوحاتو لمن ئې ختیځ او لویدیځ ته و غزول ، د ه د نوی سرخخه پرهند لښکری ور رهی کړلی .

تر تاپتالی او ترا (ننني پتنه) پوری مخ ته ولاړ، په چین کی ئې د خپل قلمرو حدود د تارم درود تر حوزی پوری وغزول. د کنشکا زوزا تو تر ۲۲۰ میلادی کال پوری سلطنت کاوه.

✡✡✡

یفتلیان

ترلویو کوشانیانو وروسته کوچنیو کوشانیانو یا کیداریانو داقتدار واکی په لاس کی ونیولی، په دوی پسی وروسته سمدستی د ۴۲۰ تر ۴۲۵ میلادی کال پوری یفتلی قبائیلو باختریان اشغال کړل، او د یفتلی کورنۍ د سلطنت بنسټ ئې په آریانا کی کښېښود،

چی لومړی حکمدار ئې اختالیتودی، یفتلی واکدارانو د ساسانی لښکر وسره چی په پاریس کی ئې غښتلی او زورور سلطنت درلود ډېر کلونه مقابله وکړله، او د دوی د تیری مخ ئې ګرزاوه، لکه چی

د بهرام ګور، د وهم یزدګر او پیروز سره د یفتلیانو جګړی ډېری مشهوره دی.

✡✡✡

آخشنور (خشنواز)

د میلادی ۳۶۰ کال په شاوخوا کی د یفتلی لوی او بزرګ پاچا د آریانا پر تخت کښېنوست چی آخشنور نومیدی او عربی مؤرخینو دغه نوموړی د خشنواز په نامه یاد کړی دی، د ساسانیانو د تیریو او یرغلو سره خورا کلکه مقابله کوله، لکه چی د ساسانی پیروز سره ئې

دوه کرته جګړه وکړله، چی لومړی جګړی ئې پیروز مغلوب کړ، او په دوهمه جګړه کی ئې پیروز وواژه، او د پیروز سربازان ئې د

یو مخه محو وکړل تر دی حده چی د پیروز وروسته واکدارانو او طرفدارانو د یفتلی آریانا دولت باج او مالیه

ورکوله، آخشنور کابل او کندهار ائی د کلداریانو آخرنیو عناصرو څخه لاس ته راوستل، او هم ئې د اراکوزی او سیستان د ساسانیانو د سلطی څخه راویوست.

آخشنور د میلادی پنځم قرن تر آخر پوری سلطنت وکړ.

تورامانا

د یفتلی د دوری د مشهورو فاتحو پاچا نو څخه یو همدغه تورامانا دی ده د هند په مرکز او شمال کی ډېر فتوحات وکړل، د ۵۰۰

میلادی کال په شاوخوا کی پر ټوله هند شمالی او جنوبی قبضه وکړل، او مرکز ئې ننني مالوه وټاکل.

✡✡✡

میراکولا

میراکولا د خپل پلار تورامانا وروسته سلطنت ته ورسیدی د میلادی ۵۴۲ کال پوری ئې پاچهی وکړه

دده د پاچهی د دوری په پای کی د آریانا اصلی خاوره د هند څخه بېله شول په آریانا کی تیت او پر کلوو

وضعیت څرګندشو چی د اسلام تر ظهور پوری دغه وضعیت دوام وکړ په شمالی سیمو کی تر څه مهاله پوری غربی ترکانو او ساسانیانو نفوذ وموند، او د هندوکش په جنوب او ځینو نورو سیمو کی کوشانی یفتلی عناصرو په حکومت لاس پوری کړ.

اسلامی دوره

د اسلام د مقدس دین د انتشار او ظهور په مهال کی د آریانا ولایات اکثره د محلی حکامو او رئیسانو له خوا اداره کیدل، سره لدی هم ملی لښکر د خپلو ولایاتو تر بیرغولاندی دوه سوه کاله د اسلامی اردو سره جنګیدی څو په پای کی په آریانا کی مسلمانانو خپل روش او رسم خپور کړ، په همدې سبب د آریانا توریالی وګړی

په اسلامی مزایاؤ وپوهېدل نو پخپله رضائی قبول او ومانه او پدې ختیځه سیمه کی د اسلام د نشر بیرغ ودریدی او ددې مقدس دین پیشوایانو د اسلام د مقدس دین طریقه رواج او ترخورالویی ساحی پوری ددې مقدسی طریقی لمن وغزول تر دی حده پوری چی ځینی مؤرخین وایی: چی په هند کی د اسلام تاریخ په حقیقت کی په هند کی د افغان تاریخ دی .

✡✡✡

خراسانی ابو مسلم

دغه نوموړی په افغانستان کی د لویو سترو لارښوونکو څخه ؤ او په افغانستان کی ئې د یوه اسلامی مستقل حکومت په باره کی ډېر زیار ویوست ده ددې کار نیت او اراده وکړه چی د اسلامی خلافت په دربار کی نفوذ پیدا کړی له همدی لامله د عباسیانو ملاتړ شو؛ او په ۱۲۹ هـ کال کی ئې په ښکاره ډول د امویانو پرځای باندی د عباسی خلافت ووجود ته اقدام وکړ، عباسیان دده په همت او مرسته په

۱۳۲ هـ کال کی په خپل مراد ورسیدل او عباسی خلافت میدان ته راووت، تر دغه وروسته ابو مسلم و مروته راغی او د اسلامی خراسان او ماورا لنهر او د فارس د ښار د واکداری واګی ئې په لاس کی ونیولی او د خپل دولت د آزادی په هڅه کی شو، عباسی دربار دده ددې قصد څخه وبېرېدل او په چم او حیله ئې دده کار پای ته ورساوه (۱۳۷) .

✡✡✡

پوشنجی طاهر

دغه نوموړی د اسلامی دورې د افغانستان د آزادی غوښتونکو او حکمدارانو څخه یو برجسته او سترنامی قائد دی ده د عباسی هارون الرشید د زوی مامون الرشید پر خلافت باندی د کښېنولو په باره کی ډېر خدمتونه وکړل،

په ۱۹۸ هجری کال کی مامون الرشید د طاهر د خدمتو په بدل کی ده ته مهم کارونه و سپارل تر دی پوری چی په ۲۰۵ هـ کال

کی د خراسان په حکومت مقرر شو، ده په خراسان کی خپل دغه پخوانی د زړه ارمان وکیښ، په ۳۰۷ هـ کال کی ئې د څلرمی خور (جمادی الاخر) په ۲۴ نېټه د خراسان کامل استقلال اعلان کړ، مګر په هغه شپه

په یوه اسرار آمیزه ډول سره مړ شو، زموږ د وطن دغه ستر قوماندان چی غالبا د

عباسی دربار په ټونګ باندی مسموم شو یو لوی سرمشق ئې د خپل وطن د اولاد د پاره پرېښود .

✡✡✡

صفاری یعقوب

لیث

تر پوشنجی طاهر وروسته هغه څوک چی وی کولای شوای چی اسلامی مستقل حکومت په افغانستان کی تشکیل کړی .

سیستانی صفاری یعقوب لیث دی، دغه سړی چی د رویکری د کسبه څخه د سیستان د عیارانو وقیادت ته رسیدلی ؤ په پای کی د محرمی په ۲۵ نیټه ۲۴۸ هـ کال د سیستان د حکومت پر تخت کښېنوست،

یعقوب ژر تر ژره د هلمند پر حوزه، هرات، پوشنج، فارس او کرمان کابل، بلخ، تخارستان، نیشاپور، او ګرګان باندی غلبه وکړه تر

لاس ئې کړل، تر دغه وروسته ئې د بغداد د عباسی خلیفه په مقابل کی په مخالفت لاس پوری کړ مګر د عباسی قواو په مقابل کی تر دیرالعاقول «اوسنی قصر شیرین» تیر نشو په لار کی مړ شو.

✡✡✡

صفاری عمرو لیث

تر یعقوب وروسته دده ورور عمرو لیث وسلطنت ته ورسیدی، ده د خلافت د درباره څخه پر دغو لاندی ولایتو فرمان در لود: لکه د فارس ولایات، کرمان، اصفهان، ګرګان، طبرستان، سیستان، هند او سند، او هم ئې پر بغداد او حرمینو قوماندانی در لوده، ده څو واره په فارس کی خپل سوقیات عملی کړل، او په شیراز کی د خلافت پر قواو غالبه شو، په پای کی دغه صفاری ستر واکوال په بلخ کی د سامانی اسمعیل امیر په مقابله کی ونیول شو او د بغداد په بندیخانه کی مړ شو.

✡✡✡

سامانی اسمعیل

دغه بلخی نژاده ستر واکوال د ۲۷۹ هـ کال په شاوخوا کی په سمرقند کی د اقتدار ډګر ته راووت، دغه نوموړی د سامانی مقتدر دولت بنسټ کښېنود، د سیحون هغه پلو ته ئې ډېر فتوحات وکړل، او په لږ مهال کی ئې ورو، ورو افغانی او د ماوراء النهر دولتونه سره یو کړل، بیا ئې د فارس پر ملک حمله وکړه دری او طبرستان ولایتونه ئې ونیول.

سامانی اسمعیل په ۲۹۵ هـ کال کی وفات شو.

غزنوی

سبکتګین

دغه نوموړی د غزنی د ستر و پاچهانو څخه دی چی په ۳۶۶ هـ کال کی وسلطنت ورسیدی، دده په پاچهی کی د غزنوی د دولت د بخت ستوری د ختیځ په آسمان کی وځلېدی.

سبکتګین د خپل سلطنت په لومړیو کلو کی د بست او قصدار ولایت پخپل قلمرو کی د آریانا د شرقی ولایتو د ګډون په هڅه کی شو، دغه د افغانستان باستانی سیمی ئې د غزنی د ملی حکومت سره یو ځای کړی؛ دغه نوموړی په ۳۸۷ هـ کال کی وفات شو.

✡✡✡

غزنوی سلطان

محمود

د سبکتګین زوی سلطان محمود د غزنی ستر امپراطور په ۳۸۸ هـ کال په غزنی کی وسلطنت ته ورسیدی

د دغه ستر سلطان شهرت او مقام په څو محدودو لیکو کی نه ځائیږی چی موږ ئې خلاصه کو، زموږ د ملک نظامی عظمت دده په عصر

کی ونهایی عروج ته ورسیدی، دغزنویانو دسلطنت دقلمرو لمن دری او اصفهان څخه ترقنوج او ګنګا پوری غزېدلی وه دده په وخت کی دغزنویانو نفوذ په عالم اسلام کی خورا ډېر شو، غزنوی لښکر د کسپین او داورال دجهیل دڅنډو څخه دبحر هند ترسواحلو پوری

تل په حرکت کی ؤ په ختیځ کی ئې ۱۲ واره سوقیات عملی کړل، په هروار کی غالب او فاتح شو، دی په ۴۲۱ھ کال کی وفات سو .

✡✡✡

غزنوی سلطان مسعود

دی دسلطان محمود غزنوی زوی دی، تر پلار وروسته ئې داقتدار واګی په لاس کی ونېولی، ده تر پایه کوښښ وکړ چی خپل د پلار قلمرو دخپلو زور ورو رقیبانو او حریفانو په مقابل کی وساتی، پدې کار کی تر یوه حده پوری موفق هم شو؛ سلطان مسعود په ۳۸۸ھ کال ووژل شو .

✡✡✡

غوری سلطان غیاث الدین

دغه نوموړی دافغانستان دستر وسلطانانو څخه دی چی په ۵۲۹ھ کال ئې غزنی دغزنوی ترکانو دتسلط څخه ویوست، غوری دولت ئې پراخ کړ، دوه کاله وروسته ئې هرات هم ونیو، او د غزنوی دولت پر کنډوالو ئې غوری ملی ستر دولت تشکیل کړ، سلطان

غیاث الدین تر ۵۹۹ھ کال پوری دخپلو نیکه ګانو پر ټولو سیمو حکمرانی وکړل .

✡✡✡

سلطان شهاب الدین غوری

معزالدنیا والدین محمد شهاب الدین غوری یو ستر حکمران او غوری دولت او ممالکو ته ئې ډېره پراخی ورکړه، ده دخراسان یوه برخه دسلجوقیانو څخه ونېوله، دخپلو پرله پسی سوقیاتو په مهال کی ئې په ختیځ کی سند او ملتان په ۵۸۱ھ کال دعربی حکمرانانو د

لاس څخه وایستل د پاته غزنویانو آخرنی حکومت ئې په ۵۸۲ھ کال دلاهور څخه دپښو واچاوه، په هند کی ئې د چوهان راجپوتانو،

د (پرتهوی راج اجمیر) پر پیاوړی قبیله باندی یرغل ور ؤړ مغلوبه ئې کړه ۵۸۹ھ تقریباً ټوله شمالی هند ئې تر خپل نګین لاندی

راووست، همداسی نوری سیمی لکه قنوج، ګوالیار، بندلخند، بهار او بنګال هم پرله پسی د شهاب الدین د سردارانو په لاس فتح سولی

او ددغو سیمو وګړی او سیدونکی مسلمانان شول همدغه لومړی وارو چی

ټوله هندوستان لږو ډېر اسلام قبول کړ، ده خپل اکثر فتوحات دغزنی دمرکز څخه دخپل ورور سلطان غیاث الدین غوری تر فرمان لاندی

وکړل او د ۵۹۹ هجری کال وروسته و سلطنت ته ورسیدی، څو په پای کی په ۲۰۲ھ کال چی دهند څخه راتلی په لار کی ووژل شو .

✡✡✡

په هند کی

افغانی سلطانان

د تیمور اچنګیزی استیلا په مهال کی د ۶۱۲ تر ۹۳۲ ھ کال پوری دوو سو و کسو افغانی پاچهانو دهند (نور بیا)

دوست محمد [تره کی]

«۴»

دګرمسیر د کلتور وضع

«دوهم فصل»

دغه رنګه ځوانان هلکان، زاړه او ښځی ئې داختر دمېلو سره ذوق لری، ځوانان ئې غېږ باسی د سپوږمۍ په شپه د کلی په منځ کی ټولېږی غزلی وایی، ښځی ئې هم د سپوږمۍ په شپه د کور و څخه راوزی غزلی وایی، دریې وهی او اتڼ کوی. دغه رنګ دګرمسیر په خانانو او ملاکانو کی د نښان دویشتلو او د آسانو او اوښانو د ځغلولو ذوق هم سته.

په آخر کی باید داهم واضح شی چی په هغه محیط کی سلیقه د ژوندانه په اکثرو چارو کی کمه یا نه لیدل کیږی لباس، خوراك او دګذاری ځایونه ئی ډېر ابتدائی او بی سلیقی دی په کورو کی نظافت نسته او د جوړښت په حصه کی ئې هیڅ ډول سلیقی په کار نه ده لوېدلی او د دوی د مزدور کاره او بزګرانو کورونه امکان لری چی د سلوکالو د مخه کورو سره فرق ونه لری که څه هم د خانانو کورونه د بزګرانو و کورو ته نسبتاً درست او ټینګ دی بیا هم هیڅ ډول سلیقه پکښی نه لیدل کیږی.

دانسانانو او چارپایانو د استوګنی ځایونه عموماً په ېوه کور کی سره نژدی دی د کورو ساختمان ابتدائی او بی معنی دی په لباس کی منظور فقط د بدن پټوالی وی باید ټینګ وی او دوام ولری مګر ځوانانی ښځی او نارینه د لباس په جوړولو کی عموماً د دوی هغه صحرائی سلیقی او ذوقونه په کار اچوی، د کمیسو ځګرونه او لستوڼی د پرتوګو پایڅی نر او ښځی کله، کله خامك کوی، مګر عموماً د سلیقی خاوندان که نروی که ښځه هغه څوك دی چی اقتصادی وضع ئې ښه وی.

د خبرو طرز او اصطلاحات :-

دګرمسیر وطنوال خلګ په پښتو ژبه خبری کوی د خبرو طرز ئې د هلمند د نورو سیمو په شان دی، دوی په پښتو کی کندهاری سبك تعقیبوی مګر دومره فرق لری چی د کندهار د پښتو لهجه ښاری اما دګرمسیر د خلګو د پښتو خبری صحرائی لهجه لری دغه ډول د دوی د غزلو ویلو طرز هم د کندهار د خلګو د غزلو سره فرق لری.

په هغه ځای کی خلګ په خبرو کی د فصاحت او بلاغت مراعت نه کوی لنډ عبارت په اوږدو او متعددو جملو کی را ولی.

اکثره بی سواده خلګ ئې د مبتداء او خبر مراعت هم نه کوی.

بزګره طبقه عموماً دوه نفره د لیری فاصلی څخه په لوړ آواز خبری کوی دوی ځینی لفظونه او اصطلاحات لری چی په کندهار کی نه استعما لیږی چی دلته ئې څو د مثال په ډول راوړم.

دګرمسیر - کندهار	اصلاحات
کورته دی - په کور کی دی	
یو! څونه ښه دی-	
داسی! څونه ښه دی	
چندك اهمیت نه لری -	
چندانی اهمیت نه لری.	

کور که ځم - کور ته ځم
ډېره مې آیبت کړه - ډېره مې وغورځول
میان خانی ته ولاړی - مهمان خانی ته ولاړی
مړی ثواب که - مړی ته غسل ورکه
خپله دعوه شړم - خپله دعوه کوم
دا کتاب دهغه بل استر بل دی - دا کتاب تر هغه ښه دی
زما قلم بی دی - زما قلم ښه دی
زموږ کور آزاده دی - زموږ کور لیری دی
والله څو کور ته ولاړم - والله کور ته ولاړلم

ژبه، نژاد :-

دهلمند دناوې ټوله خلګ پښتانه او آرین نژاده دی پوستونه ئې سپین یا غنم رنګ دی بڼی ئې قوی او قدونه ئې اوسط دی. په پښتو خبری کوی .

دجنوب وخواته دریګستان په برخو کی بلوڅان ژوند کوی چی نژاد ئې آرین او رنګ ئې دلمر حرارت په نسبت تور یا غنم رنګ دی ځینی ئې سپین رنګه هم پکښی دی. سر بیره پردی په هغه ځای کی یو بله طبقه ژوند لری چی ډمان ورته وایی کسب ئې دسر او ږیرو خریل، ساز کول او ډول وهل دی ابتدائی او ساده آهنګری او نجاری هم کوی .

دغه رنګه ډوه ډله خلګ چی په خلیفه ګانو سره مشهوری ده ژبه ئې پښتو دامیر بلند صاحب د زیارت پرشاوخوا دیوه کلی په ډول ژوند لری قوم ئې عرب دی او ژبه ئې پښتو ده، دا خلګ رشتیا هم ۱۳ پېړۍ دمخه دامیر بلند صاحب سره دعربستانه ډوه کورنۍ راغلی وه چی نن ورځ یو مکمل کلی او ډېر کورونه ځینی جوړ شویدی ددې خلګو نېکه ګان عرب خو دوخت په تېر ېدو ئی اوس اولادونه پښتانه شویدی .

دپورتنی نژادو څخه پرته بل نژاد دګرمسیر په خلګو کی نه لېدل کیږی .

قومونه :-

دګرمسیر خپلګ پر مختلفو قومو ویشل شویدی چی ډېر ئی نورزی، علیزی، اسحق زی، پوپلزی، او بلوڅ دی سر بیره پردې لږ شمېر سیدان دی، عرب او غلزائی قومونه هم هلته سته، دنورزو قوم چی تر نورو ډېر دی دمنطقی دسره تر آخیره پراته دی .

ددولتی احصائیی دشمېر له مخی د دوی تعداد تر علیزائی قوم ډېر دی چی دمنطقی په سر او منځ کی پراته دی .

اسحق زائی او پوپلزائی قومونه چی دمنطقی آخیر ته پراته دی نفوس ئې کم دی .

عرب په ډوه محدود کلی کی دمنطقی په سر کی د امیر بلند پرشاوخوا او سیږی سیدان او غلزائی قومونه ډېر لږ او متفرق دی

ډمان یا دلاکان چی نژاد ئې تور دی په هر کلی کی سته

سر بیره پر پورتنیو قومو د هغه منطقی په ریکستانی برخو کی یو تعداد بلوڅان هم سته چی اکثره په بلوڅی او بعضی په پښتو ژبه خبری کوی

دعرف وعادات او تقاضا د نقطه نظره دګرمسیر تر خلګو ساده او ابتدائی دی .

هلته دوکالت دپاره نفر دلیاقت او کفایت له مخی کوښښ کیږی چی انتخاب شی بلکه یو حساب هلته موجود دی

که دشوری وکیل دیوه قومه وی دمشوری دمجلس وکیل حتماً باید دبل قومه څخه انتخاب شی دغه رنګه که یو کال وکیل دیوه قوم څخه

ولاړشي بل کال بایدد بل قوم څخه وټاکل شي اکثره کلونه دوکیلانو دانتخاباتو په وخت کی نه سره قانع کیږی اومناقشی ئې زیاتیږی .

دوی عموماً خپلوی دخپل قوم څخه دباندی نه کوی که ښځه ورکوی اویا ئې غواړی کو ښښ کوی چی دخپل قوم څخه ئې وی . خانان اوملاکان دګرمسیر په کلیو کی چی نه ئې پیژنی په کلی کی دهمسایه په ډول ځای چاته نه ورکوی او کو ښښ کوی چی دخپل صالح سیمه داراون په کلی کی یوځای کی .

عمومی عقیدی :-

دګرمسیر وطنوال دعقایدو دنظره پاك او سپېڅلی مسلمانان دی پرپنځه وخت لمانځه ټوله خلک ټینګ دی په هر کلی کی یو یا دوه مسجده سته چی هلته ملایان (روحانیون) استوګنه کوی .

دکلی ټوله خلک ملااوامام ته په درنه ستر ګه ګوری اواحترام ئې کوی دده ټوله مصارف دکلی دخلکو دخوا د ذکوة یا خیرات په ډول ورکول کیږی اود کاله تاکلی اندازه غنم، اوربشی او جواری دوه یادری خرواره (۲۰۰ یا ۳۰۰ د کندهاری په منه) ذکوة ورکول کیږی .

ملایان په مسجدوکی ډویادوه نفره طالبان هم لری چی هغوی دآینده ملااوامام په ډول ځانونه تربیه کوی. ملایان او طالبان

بپله امامت اودکلی وکوچنیانوته د ابتدائی دینی کتابو دتدریس څخه نور اجتماعی کارونه لکه دهقانی، مزدوری، کښت ګری، او

نورنه کوی اونه دهغه ځای خلک د دوی څخه داتوقع کوی چی نورکارونه دی دنفقی دبرابرولو دپاره وکی .

هلته پیران او مریدان هم سته مریدچی دپیرسره مخامخ سی لاسونه ئې مچوی اوهرامرته ئې آماده وی. پیران په هر کلی کی نمایندګان لری چی په هغه کلی کی د(پیر) دطرفه دینی تبلیغ کوی او مریدانوته دپیر درویی (طریقی) لارښودنه کوی ، دغه پیر نماینده چی په کلی کی وی (خلیفه صاحب) بلل کیږی .

خلیفه صاحب دائماً دخلکو توجه دپیردطریقت وخواته جلبوی اونوی مریدان ورته پیدا کیږی په عین حال کی خلیفه صاحب هم د هغوی په منځ کی دعزت خاوند دی .

خلیفه په هفته کی یووار په کلی کی دشپی د خوا مریدان په یوه تاکلی ځای کی سره راټولوی، په هغه محفل کی یونفر چی ښه

آواز لری نعت شریف وایی او مریدان تر احساسا تو لاندی کیږی حلقه (۱) کوی اوژاړی، داوضع دشپی تر

ډیروخت یعنی تر سهاره شروع وی په هغه ځای کی زړې ښځی چی مریدانی دی هم راځی وروسته د(حلقی) محفل ختمیږی اودسهار لمونځ کوی .

دغه رنګه هغه کسان چی ځانونه ئې په ژوندکی پیران یا خلیفه ګان بللی

دی اومریدان ولری پسله مرګه ددوی په قبرونو باندی بیرغونه د روی او ماجر (دپوال) پرراګرزوی شا و خوا ئې څومشمر یاغیر مشمر

نهالان ایږدی وروسته ئې دپیریا خلیفه صاحب زیارت بولی چی ټوله نر اوښځی چی کسمه مریضی ولری د اجتماعی یا انفرادی مشکلاتو سره برابرسی نوزیارتوته دوسیلی په طریقه ورځی

---

(۱)- حلقه یوډول آواز دی دخولی ئې باسی

اودځان سره چرګه پسه یا کم بل خوراکی شی اویا نقدی خوپیسی وړی اودزیارت دمجاور (اوسیدونکی) ته ئې ورکوی او قبر ته په عجز سره دعا کوی او خدای ته ئې شفع کوی هغه شی چی دزیارت مجاور ته ئې ورکی د (درود) په نامه ئې یادوی .

دپیرانو اوملایانو دژوند په وخت هم دهغه محیط نر اوښځه د مشکلاتو دحل کیدو اودمریضی په وخت کی ودوی ته مراجعه کوی اودوی هم تعویذونه، ځانښتونه چی آیاتونه اویادخدای (ج) نومونه دی چی پر کاغذ لیکل سویدی مراجعینو ته ئې ورکوی .

اویوډول هدایت ورکوی، هغه خلک بیا تعویذته د ټوکر یا څرمنو پوښونه ورکوی اوځانښتونه په اوبو کی مینځی چی نوشته ئې په اوبو کی پاکه شی بیا نو هغه اوبه چښی که ئې مقصد ترسره نـی یا صحت پیدا نه کی داحترام اوعقیدی درویه چی پر پیرانو ئی لری څه نه وایی او که خدای صحت ورکړی ددوی مقصد ترسره شی یا صحت پیدا کی نو پیر یا هغه چا ته چی تعویذ ئې ورکړی وی هغه ته ښه تر اعقیده پیدا کوی .

دهلمند په ټولو سیمو کی چی ګرمسیر هم ورسره شامل دی خلک دمسلمانی پرعقایدو ډېر ټینګ دی .

زیارتونه :-

دګرمسیر په منطقه کی دهلمند دنوروسیمو په شان دروحانیونو اود تصوف دخاوندانو قبرونه سته چی دمرګ نه وروسته ئې خلکو قبرونه ښه جوړ کړیدی (شاوخوائی ونی اودیوالونه پرراګرزولی دی اودقبرو دسروخواته دلرګوخادی ئې درولی چی دټکرانو بیرغونه پرځړوی) چی وهغوته زیارتونه وایی .

زیارتوته دګرمسیر نراوښځه ښه عقیده لری دسختی یا مریضی په وخت کی ئې خدای ته شفیع کوی. په هغه ځای کی ښځی دزیارت څخه دکومك غوښتو ته (مراد) وایی .

مشهور زیارتونه ئې دادی :

۱- امیر بلند صاحب: چی ددرویشان دکلی دشمال شرق وخواته په یوه ټوټه ریګ باندی پروت دی .

۲- ملاکبلی اخند: چی دهرارجفت دکلی دشمال وخواته د ولسوالی مرکز ته نژدی پروت دی .

۳- سید نورجان آغا : دلکی په کلی کی پروت دی.

۴- حاجی نیکه دلکی په کلی کی پروت دی .

۵- سخی نیکه: په میان پشته کی په آبدی خوب بیده دی .

۶- خواجه غیب: په میان پشته کی آبدی آرام لری .

۷- ګل آغا: ددرویشان په لوی کلی کی قبرلری چی یوه ښه دونو تکیه اوماجر هم لری .

۸- سید محمدحسن آغا دده عمر د ذکریا په کلی کی تیرشوی اوهلته پروت دی .

۹- ژړآغا: د بنـادر د منطقی آخرته په آبـدی خوب بیده دی .

۱۰- بابکوبابا: داسړی هم په بنـادر کی پـروت دی .

۱۱- آدم جان آغـا : د بګت په کلی کښی چی تـر بنادر وروسته دی پروت دی .

۱۲- سیدرنګور آغا: تر بګت وروسته چی د اوسنی ګرمسیر نهائی برخه ده او لنډی نومیږی هلته پروت دی .

(نور بیا)

«۳»

د موسی جان او ګلمکۍ د کیسی لنډیز

آس ئې په چارناله ترسترګو نېهام کړ، د سهیلی نورو ماینو دستی مخ د کور پرخوا ونېوی او خلګو ور وځغستل سهیلی یی خبر کړ (چی ببی) یو سړی وتښتوله.

سهیلی هم دستی سړی پسی ولېږله خو چایی بیا پته معلومه نکړه، (ببی) ورکه شوه، د سهیلی په زړه کی داغ پاته شو نو پدی فکر کی شو چی ېوه بله ښایسته نجلۍ وغواړی چی (ببی) ئی هېره شی.

سهیلی چی هره شپه پرېوزی په خیال کی د ګرده کلی پېغلانی چوڼ کوی خو یوازی د ببی خور ګلمکی لازمه بولی چی باید ځان ته ئې کښېنوی، ګلمکۍ چی د موسی جان په نامه ناسته وه نو سهیلی ته ئې لوی مشکل پېښ کړی ؤ. خو په پای کی ئې د ځان سره فیصله وکړه چی موسی جان به د منځ څخه وباسی او په یو چم به ئې خوله ورپټه کړی.

سهیلی پس له څو ورځو د هغی مور ته داخبره وویل چی ګلمکۍ ورته ورکړی د هغې مور ورته وویل:

چی داخو مېړه لری ده پروا په ونه کړه او کله چی ګلمکۍ خبره شوه نو پر ځان وبېرېده او وپوهېده چی سهیلی زور ورسړی دی نه دی پرېږدی راځه د چالاکی د مخه معامله ورسره شروع که.

نو ېوه ورځ ئې سهیلی ته سړی ورواستاوه او ورته وې ویل چی زه به تا مېړه کړم خو زما دا یو شرط ومنه چی پر شپیته ګزه دار یو کټوری کښېږده د وطن ښکاریان در وغواړه هر وخت چی هغه وویشتل شو په هغه ورځ به زما اوستا د لیدو او ملاقات شپه وی.

سهیلی هم دغه کار وکړ هره ورځ ډلی ډلی ښکاریان ورځی او نښان ولی او غواړی چی د سهیلی انعام وګټی.

د ګلمکۍ لدې کاره څخه مطلب دا دی چی ګوندی په دغه وخت کی به موسی جان د ېوې خوا څخه پیداشی او دا به د سهیلی له پنجی څخه خلاصه کړی.

ولیجان چی د سهیلی څخه ببی وتښتوله نو یوه وطن ته ولاړ او هلته ئې په بزګری او مزدوری شروع وکړه خو بیا چی څه پیدا کوی په هغه کور چلوی او ېوه کچنی مهمان خانه هم لری چی ځوانان پکښی ټولیږی پدې منځ کی چی ببی ولیجان ځان ته په نکاح کړه یو زوی ئې ځینی وزیږیدی چی د (میرولی) نوم ئې پر کښېښود.

د ولیجان مهمان خانی ته د هر ځای شوقی ځوانان راځی ېوه ورځ دده مهمان خانی ته یو ځوان راغی چی په څېرو او خیرونو کالو کی ئې د ځوانۍ ښکلانه وه ورکه شوی دده سره یو رباب هم و پس له ستړی مسی ولیجان ورسره کښېنوست او ډوډی ته ئې وګرځاوه، چی ډوډی وخوړه شوه ولیجان ورته وویل:

چی ځوانه ته خودی شهباز را وباسه او ېوه پنجه رباب وواهه چی د ځوانانو زړه په بیدار شی هغه ځوان هم رباب واخېست او داسی د سوزه ډک رباب ئې وواهه چی ګرده منګ ورته ولاړل.

ولیجان ورته وویل: دشپې هم دلې پاته سه څو داو چې دا ربابې ځوان دولیجان ملګری شو اودده سره هره ورځ اوهره شپه وینې .

یوه ورځ ولیجان پو ښتنه ځینې وکړه چې ستا نوم څه دی ؟

اود ژوند نوره ماجرا دی راته ووایه ځوان ورته وویل :

زما نوم موسی جان دی اود یوشرمښ صفته خان دلاسه راورك شوی یم ښځه مې ترشا پاته ده او زړه ئې د وینو ډك دی نو دادی چې پروطنو ګرزم او پدې رباب غم غلط وم .

ولیجان چې دخان د نامه پوښتنه ځینې وکړه او هغه د سهیلی او ګلمکې نکل ورته وکړ ولیجان وپیژندی ځکه دګلمکې

خور (بېبی) چې اوس ده ته ناسته وه هغې ګرده نکلو نه ورته کړی وه نو ولیجان ورته وویل چې:

دګلمکې خور بېبی اوس دده په کور کې ده هغه ؤ چې ولیجان دستې موسی جان کورته بوتې او هلته بېبی هغه وپیژندی او دوی سره خپلوان شوه .

دا مهال دولیجان اوموسی جان ملګری بنه سره ټینګه سوه یوه ورځ دواړو سلاسره وکړه چې دسهیلی له پنجو څخه به

ګلمکې هم خلاصوی نو دواړه سره رارهی شول او دګلمکې کلی ته راغلل هلته ئې په پټه ګلمکې هم خبره کړه ګلمکې خوشاله شوه اودستې ئې خپل کالی سره

ټول کړل چې په یوه مناسبه موقع کې دوی سره ولاړه شی پدې منځ کې سهیلی ته پټ خبر ورسیدی چې ولیجان اوموسی جان راغلی دی نو

هغه مهال چې ګلمکې په پټه دښځې پلاس دوی ته ډوډی لیږل د سهیلی په ټونګ یوې زړی ښځې پټ

په ډوډی کې زهر ورګډ کړل کله چې ډوډی ورغله موسی جان خپه ؤ ډوډی ئې خواته انکیدله خو ولیجان

چې ډوډی ئې وخوړل بس دستې ناجوړه شوه اودواړه په چابکی دخپل کور پر

خوا رارهی شوه هلته چې ورسیدل ولیجان مړ شو د

ولیجان دمرګ وروسته موسی جان ورځ په ورځ زمول کیږی دولیجان زوی

(مهرولی) چې یو تندی ځلمی دی هره ورځ موسی جان ته وایی چې درځه د سهیلی څخه کسات «انتقام» واخلو .

پس له څه وخته بیا دسهیلی په کلی کې چوك چوك شوه چې موسی جان راغلی دی .

داوار موسی جان اومیرولی دشپې ناخاپه دسهیلی په کلا حمله وکړه او پس له پوې کلکې جګړې ئې ګلمکې راوایستله، دآس ترشا ئې سپره کړه او بوئې تللل .

تردې وروسته نوددوی اود سهیلی ترمنځ جګړې روغ شوی اوسهیلی ته اوس ددوی ځای معلوم دی نه ئې پریږدی اودغسی

سړی پسی لیږی اوحملې پرکوی پدې ترڅ کې موسی جان ازبستې چې غموئې زړه لاندی کړی اود ملګری ولیجان مرګ لپونتوب

ور پیښ کړی همیشه پرغرو ګرزی دسهیلی سره (میرولی) بدی پالی اود کور ښځې ساتی اودا مهال ګلمکې ته ګروم ورلو بدلی او

نری رنځ (سیل) ئې په ځان شویدی پسله څو وخته میرولی هم په جګړه کې زخمی شو او کور ته راغی پس له لږ وخته څخه مړ شو .

داوخت نو یوازی ښځې پاتې شوی سهیلی چې کور ئې بې سرپرسته و لید نو ګلمکې یې کور ته بوتله .

هغه مهال چې دې ته دموسی جان دمرګ خبر ورسید نو زاره ترقی او مړه شوه سهیلی چې دګلمکې په مرګ بیا یوازی پاته

شو نوشهوت ئې په ښور راغی او نیت ئې وکړ چې دولیجان خور (تانو) وغواړی ځکه ده (تانو) لېدلی وه چې ډېره مېړنی پېغله وه شهوت پرست خان (تانو) ته خبرور کړ چې دده غوښتنه ومنی او په مېړه توب ئې قبول کی تانو چې پخوالا دسهیلی څخه د انتقام اخستلو لاری پلټلی نو دستی ئې دسهیلی غوښتنه ومنله او ورته وی ویل چې؛ ستاسره مینه لرم نوژرمی درولاړه کړه .

سهیلی په خوشحالی دواده شپه جوړه کړه او کله چې سهیلی او تانو ماښام په خونه کی سره ېوځای شوه نو (تانو) دروازه وتړله او دوې توری ئې راوایستلی او په ډېره آرامی ئې ېوه توره وسهیلی ته وروغورځوله او ورته وې ویل :

نامرده سهیلیه تا به ښه خیال کړی وی چې د ولیجان پرخور به پښه واړوی دادی نن زما اوستا دجنګ شپه ده په نامردی دی هم نه وژنم او دادی یو توره هم په لاس درکوم را ولاړیږه چې توره په توره ئې درسره معلومه کړم یا به دی نن په وینو ځان او به کړم او یا به زه هم دموسی اوولی او نورومړو پرلار ولاړه سم .

سهیلی حیران شو په ناچاری یی توره راپورته کړه په خونه کی د توری جنګ شروع شو سهیلی کوښښ کوی چې پر تانو یو کاری واری وکړی خو وار ئې نه برابریږی څو د تانو توره ئې پر مغزی برابره شوه او په وینو لژنده پریږت سهیلی مړ شو او تانو د په وینو لړلی تور ئې سره راووتله ناری ئې کړی خلګو واوری نامرده سهیلی می مړ کی .

دسهیلی په مرګ هیڅوک خوا بدی نه شو دهغه ډېری ماینی چې ترپزی رسیدلی وی پر آرامه شوی د کلی بزګرانو او کلیوالو دده په رګ خوشالی وکړه .

(پای)

✡✡✡

ښاغلی «بینوا»

چاته وژاړم....؟

په خواږه خوب بیده وم... هیڅ غم راسره نه ؤ لا داسی خوب چې له خوبه هم ناخبره او نه پوهیدم... نه می د بېلتون د اورلمبه لېدلی وه... نه چیرته د فراق په توره تېاره کی ننوتی وم... هیڅ نه ؤ-!

ستا د مېنی لاس راغی زه ئې ویښ کړم...

خو- پوه نه شوم چې څنګه-؟

شاوخوا می کتل... د خټو په تنګ کنډولی کی بندوم... ورېږدېدم- مګر څه چاره؟

ستا د مېنی واک ډېر دی، چې له هغه لامتناهی فضا څخه ئې پدې کنډولی کی ننه ایستلم...

آخ- چاته وژاړم؟

دخپل زړه په خوږ به څوک پوه کړم؟

هیچاته او هېڅوک!

خو، هو تاته به وایم

« حمید »

کاروان د مشکو

ځکه نه لری پروا بتان د مشکو
هر کمند لری د زلفو کان د مشکو

چی ئی دلته باد پر زلفو برابر سی
په خوتن کښی شی قیمت ارزان د مشکو
که اورنه وای آشنائی د آهوچشمو
نه به وای هسی تورسوی ځان د مشکو
چی وریځ دیار دخط وربانديراسی
اوروی می پر لپمو باران د مشکو
زلزله دیار د خط د راتلو راغله
نړوی می پر تندی آسمان د مشکو
دائی خط نشونما کاندی په مخ کی
چی پر مځکه ځی دلمر کاروان د مشکو
چی له غمه ئی دخط سرپرګریوان کړم
سی می ډک لکه نافه ګریوان د مشکو
دا د ترکو دمیګو نو زلفو تور دی
چی وګړی پر کوی ګمان د مشکو
دا شرف د عاشقی ندی نوځه دی
چی سینه سوه د (حمید) دکان د مشکو

والوتم (۱)

والوتمه والوتم، دغرو له څوکو والوتم
راغلم د موجوا و توفانو سمندرونو ته
ستر جیحون می پر ښودچی ټکری خوری له غروسره
ځان می که ګذار د سمندرو ټکرونو ته
زه وم الوتونکی د کمرونو لا مبوزن ته وم
بازومه د غرونو توفان رأ وړم دریابونو ته
نه لری او نه لری دغرونو نشه نه لری
هرڅومره چی ځیرشمه اوږدو د ساحلونوته
هره ورځ فوجی (۲) ته رسوم دهندوکش سلام
وړمه د لویانو پیغامونه پیوندونو ته
یووخت کی غوړیږی دفوجی اوهندوکش ګلان
یو به سم ګلونه د جاپان خپلو ګلونوته
جوړی به غنچی کړم د فوجی له سلامونو نه
کی به ږدم غنچی د خپلو غرونو قدمونو ته
یو به د بزګرو سلامونه شم بزګرو ته
ګواکی درناوې دپاکوزړونو پاکوزړونوته
جوړ به دګیشا (۳) دزلفو تارنه ربابونه کړم
وبه ښیم دودد ولسونو ولسونو ته
(س،ل)

---

(۱) داشعرهغه وخت ویل سوی چی دغه نازك خیاله شاعرجاپان ته تلی
(۲) دجاپان ترټولو جګ اومقدس غردی، چی په وزن دکوچی ویل کیږی
(۳) مخصوصه جاپانی پیغلی دی، چی غمجن خلګ خوشالوی اوخندوی ئې

ښاغلی «رشاد»

صیاده!!!

نه پټن غوندی مین پر هغه شم یم
چی شرر ئی دشهباز د ځالی اور شی
تر ښارګ در باندی ګرانی ئی رشتی دی؟
هغه دام چی حریت پکښی نسکور شی

✡❀✡

هغه وینی ستا د لومو سرخرو ئی ده؟
چی داری وهی د مات وزر تر څوکو
چی رهی شی د چمن په بېلتانه کی
نه لذت مومی له هغو سو و کوکو

✡❀✡

ته د ښکلو د نڅا په سترګه ګوری
د قفس د نیم بسمل پریفشانی ته
دعراق(۱) دآزانګو په خیال غوږ نیسی؟
د زندان د زولنو خو دنمائی ته

✡❀✡

ته هغه ګړی بهار ګڼی د عمر
په اهاړ چی د ګلو نو بربادی شی
جمعیت دی د خاطر هغه ښادی ده؟
چی په غم دتورو زلفو پریشانی شی

✡❀✡

ته ئی بولی د بهار دفیض اوریځی
دا آهو نه چی تمېږی کو و کاړو نه
په آرزو د مرغلری لمن نیسی
د بېلتون پر ګریوانه د اوښکو لاړونه

✡❀✡

ګرزه، ګوره ددې طوردتورو غرونو
په هر ګاڼی کی بکری غوندی شرر شته
چی سېځه شی د باطل پری افسو نو نه
د (سینا) د هر هر بوټی د ا ا ثر شته

---

(۱) عراق دموسیقی په مقاماتو کی دېوه مقام نوم دی

د مرحوم مخلص له اشعارو څخه :

غزل

باری ښکلو می زړه یووی په بازوکی
په نغمو او کرشمو او په نازوکی

عشق می هسی نوم شهره په جهان خپور کړ
لکه ږغ د ډول چی لوړوی په سازوکی

محتسب آګاهی نلری مسعود یم
زما د سوی زړه په حال او په رازوکی

هغه سپین ګل می فلك رنګ ریز بدل کا
نن می ګرزوی د شنه خط په سبزوکی

له جهانه مقصد ته ئی چی ته نه ئی
ته وانور به می وی څه په آرزوکی

زه به خپلی وینی خورم له هجره دوسته
څه شی نور خلق دی خوږ ژوند په مزوکی

چی د عشق جذبه شی چیرته ور څرګنده
زړونه نوی د سړیو په قبضوکی

چی (مخلص) له رازو ډك زړه دلته پروت دی
نو شته می کی د قبر په شازوکی

دا اتڼ د سپلنیو دی په اور کښی
د بسملو پټڼانو اضطراب دی

د ځپلو پښتنو د ننګ جرګی دی
په طلب د آزادۍ کی تب و تاب دی

✡❁✡

یوه ورځ به دا د خوږو زړو توښ وی
چی به سوړ کاندی ستا زړه له دغو مینو

هغه جام چی ته د بل له وینو ډك څکی
ژر به نورو لره ډك شی ستا له وینو

✡❁✡

یوه ورځ به دا حلقی وی ستا د لومو
چی به ستا وخپلی غاړی ته زندۍ شی

دغه اوښکی چی نن ستا له ځوره اوری
سبا ګوره بیرته ستا د باغ ژلۍ شی

✡❁✡

یوه ورځ به دا نامینده اسویلۍ وی
چی به ستا د عیش ډیوې ته د مرګ باد شی

دغه لومی به دی کښی باسی په لومه
دغه صید به آخر ستا د ځان صیاد شی

نوی ادب

جونګړه

جونګړه ورانه ښکارېده ، ښکارېده
کونډه له لوږی تاوېده ، تاوېده

د شم رڼا ته ئی ګنډلی ګرالبی
ورېته په غم کښی ناڅېده ، ناڅېده
دخونی غولی کی ګونجاړې پرتی
وړه لور کی ئی پاڅېده ، پاڅېده
ویل ئی موری زما لاسونه که سره
شنه له خنداوه نازېده ، نازېده
ماته کاسه او څو ټغران وه هلته
د غم خونګی ئی څاڅېده ، څاڅېده
هلته ئی پېغله لور پر مرګ وه پرته
د ژوند پېاله ئی ماتېده ، ماتېده
نه ئی دارو او نې د رمل ؤ په وس
تش په وینا ترې جارېده ، جارېده

داوه خبره چی سبا اختر دی
خبره نه وه چی دچا اختر دی

ښاغلی عبدالباری [بشیر]

څلورېځه

چی دی وینم داوهامو په غوښت تګ
دا ګڼی د کامیابی دی ډېر شلګ
دا مېل پر سپڼو ټال نه وهل کېږی
اوبو وړی ګرزولای نه شی ځګ

«رشاد»

د نفوسو د پروالی او نوی هیلی «۲» د ښاغلی عبدالصمد [فدا] ژباړه

د نفوسو د زیاتوالی په برخه کی بحث سمدستی په متباین ډول سره مطرح شو

او دغه لاری تردغه نژدو پوری د خلکو د نیازمندی په مقابل کی ډېر قیمته تمامیږی چی د ډېرو اشخاصو په تیره بیا دمخ پر انکشاف روان هیوادو

خلکو له توان څخه لیری دی. مگر پدې وروستیو وختونو کی ددغی لاری مصارف په کامل صورت سره نزول کړیدی او تقریباً ۱۵ سنته کښته راغلی دی .

باید دا ذکرشی چی دهغه استعمال په دولتی پروگرامونو کی امکانلری او حکومتونه

کولای شی چی هغه و بی وزلو کسانو ته وړیاور کړی اوزه اوس نه پوهیږم چی پلاستیکی گولی په هغه صورت کی چی په صحیح

ډول استعمال کړل سی ترکومی اندازی پوری به مؤثره دی مگر هغه مقدماتی شواهد چی په تایوان او کوریا کی ښکاره شوی دی چی ډېری ښځی دهغوی په

بیا تطبیق کولو سره دهغه نه دی مجبوری شوی نوی میتودونه د نیازمندیو له مخه استواره دی چی ددغه کار وروستی تکلیفونه ترهرڅه زیات محدودشی لکه

څنگه ددغو نویو تشبثاتو نتیجی نسبت و پخوا نیو تجربوته ماهروسا ینتیستانو په خو لا براتوار و نو کی ښکاره کړیدی. چی هغوی د څلورو راتلونکو کلونو

په موده کی به په بی سارو موفقیتونو لاس پوری کړی چی پدغه کی هرډول موانع

له منځه لیری شی او څو امکانات همدا اوس پر حیوانانو باندی عملی کیږی یوله درخشانه بریا- لیتوبونو څخه دزرق طریقه.

یا پیوندی چی دزیږیدولو عمل دیو کال یا زیات ترهغه په تعویق کی اچوی او هیله ده چی د (هورمونها) په

افرازسره په یوه لږه جزوی اندازه دزهدان په برخه

کی چی ډېر مؤثر دی او تخمدانی او د مخاطی غشای ته صدمه نه رسوی ډېر په زړه پوری نتیجی په لاس راشی. نوهرکله که چیری دغه تجربه عملی کړل شی په هغه صورت کی نو

ذکرشوی عملیه بهله کوم تاوان څخه ثابته شول .

اوهم ښایی چی په ارزانه بیه دی میسره شی. ښایی چی هیڅ سړی دلومړنیو تجربو دموفقیت ارزښت څنگه چی لازمه ده درک

کړی مگردغه یو ښکاره حقیقت دی چی لومړنیو تجربو لارد ډاکټرانو او سانتیستانو دپاره خلاصه کړل او البته په نژدی وختونو کی به دهغوی موفقیتو نه په برخه شی .

څلرم برهان د تولیداتو د تقلیل په برخه کی خوش بینی ده چی دنړی ډېروهیوادونو پخوا ترپخوا ودغه کار ته مبادرات

کړی دی لکه څنگه چی دغه مفکوره په جنوبی کوریا ، تایوان، هانکانگ، اوسنگاپور کی او په

څونورو هیوادونو کی چی د هغوی نتیجی په لاس کی دی عملی شوې ده .

نوی کتنی

۱- جنوبی کوریا ! په دغه هیواد کی د تولیداتو شمېر د حاد په صورت نسی مشاهده

کیدلای مگرغیر مستقیم شو اهد
ښکاره کوی چی د تولیداتو
معیار ډېر کښته راغلی دی تیر
کال له (۳۹۰۰۰۰) زیاتو ښځو

دصلبی و سائلو څخه د حمل د
وضعی دمخنیولو د پاره استفاده
کړی ده .

دښځو دشمېر مجموعه ددوه
نیم کلونو په موده کښی دپروـ
ګرامونو په طی کـولـو کی و
(۷۳۷۷۰۰۰) تنه شویدی له ۱۹۶۲
کال څخه راپدی خوا په کوریا

کی داتیازرو تنو ښځو په شاوخوا
کی وچی شولی د(۱۹۶۶) کال په
ختم کی تقریباً (۱۷۰۰۰۰) ښځود
حکومت لـه کو ښښو نو څخه
استفاده کړیده اودوه برابره د

تولیداتود کنټرول پروژی تقریباً
(۹۰۰۰۰۰) ښـځو د حکومت له
پروژو سره کومك کړی دی .

دپروګرامونو له شروع څه
خاص بیا له ۱۹۶۳ کال را پـدې
خوا زیات له شل فیصدو څخه
ځوانی ښځی اود بهره وری د

قدرت څښتنی مستفیدی شویدی
همدغه رازشل فیصده نوری ښځی
دعدم بهره وری دلاری استفاده

کړیده اودغه استفادی په ۱۹۶۶
کالو کی ددې با وجود چی

پوره احصائیه په لاس کی نسته
له د مخه ډېر زیاتوا لی پید ا
کړیدی .

د نفو سو د احصائیی
دفترونه یوچټك کاهش د
ماشومانو دشمېر د(۱۹۶۳)
او(۱۹۶۵) کلونو په منځ کی
نه یوازی په ښارو نو کی

بلکی دهیواد په لیری ځایو
کی څرګندوی (بلانګبورد)
پدې عقیده دی چی دنفوسو
طبعی زیاتوالی له دریو

فیصدو پرخلاف په (۱۹۶۳)
کال کی و ۲٫۵ فیصده ته
راکښته سویدی چی ذکر
شوی معیار ښایـی چی په
۱۹۷۱ کال کی دوه فیصده
نورتنزیل پیدا کړی اودغه
یو ښـکاره امردی چی د

نفوسوزیات والی دحکومت
دقوی او منظمو پلانو تر
کنټرول لاندی راتلای شی .

۲- په تایوان کی : په
دغه هیواد کی دتولیداتود
تقلیل موضوع له لـوکالو
راهسی کښته شو یدی له

(۴۵) څخه د یو زرتنو په
مقابل کی په (۱۹۵۵) و
۳۴٫۵، په (۱۹۶۴) و۳۲،۷، په

(۱۹۶۵) کی و۳۲،۴، په ۱۹۶۶
کی کښته کړل شویدی او په
نظر کی دی چی په (۱۹۷۳)
کال دغه معیار وشلو تنوته
ورسیږی په دغه هیواد کی
ښځی له دریو اولادونو زیات
آرزونه لری .

مشکل نقاط - هند :

کوم وخت چی زه دهند هیواد
ترکتنی لاندی نیسم او هغه خوش
بیښی چی د نورو هیوادونو د
پروګرامونو په طرح او تطبیق

کی لیدل کیږی هغه اوس په نا
امیدی اویأس سره بدلی کیږی
هغه هیواد د د رستی پالیسی
پیروی کوی پداسی حال کی چی
هند تراوسه پوری نه دی موفق

شوی چی د تولـیداتو دشمېر د
پرابلم دحل دپاره یو خاصه لاره
پیدا کړی .

ددغه هیواد پروګرامونو د
یو او دوو کلونو په وخت کی یو
جدی بڼه ځانته نیولی ده نو هر
وخت که چیری دغه پروګرامونه

نو یولاروته متوجه شی ښایی چی
دهغوی کوښښونه دی په څورا
تلونکو کلونـو کی مطلو به
نتیجی ورکړی .

دجنین سقط - پالیسی او اقدامات

نوو پر مخ تللو هیوادونو
دتولیداتو په تقلیل کی زیاتی
پاملرنی کړیدی له دغه ټل څخه
جاپان ذکر کوم .

ددغه هیواد دتولیداتو تعداد
دجنګ په وخت (۳۴) د زرو تنو
په مقابل کی وه او ۱۲ تنو ته را
کښته شول اوس جاپان او هنګری
دوه هیواده دی چی دتولیداتو

د کنټرول له نظره ونوروهیوادو
ته وړاندی دی .

دجاپان دتولیداتو د کنټرول
موضوع د حکومت د پروګرام
سره یوځای وړاندی ځی له دی
سببه چی دهغه ځای خلک د سقط

جنین دلاری څخه استفاده کوی
نه دعدمی بهر وری دلاری او
دغه کار د حکومت د تمایل پرخلاف
صورت نیسی .

دهغه ځای خلک د سقط جنین
عمل دقانون ترحمایت لاندی په
ډېرښه حرارت سره پای ته رسوی
په اوسنی حال کی په هغه ځای
کی یوعمومی تمایل دعدم بهره

وری لورته لیدل کیږی د نفوسو
زیات والی دبډایانو په وسیله
سره کیږی. چی هغوی د کارد

ګټو بېله په نظر کی نیولو سره
د سقط جنین دعمل څخه استفاده
کوی او پدغه برخه کی روغتونو
هم په رقابت سره پیل کړی دی د

جاپانی طبیبانو علاقه و سقط
جنین ته ددې موجب شول چی دغه
عمل وتایوان، جنوبی کوریا ،
هانکانګ او سنګاپور ته هم
سرایت و کی ددې باوجوده

چی په دغه هیوادو کی د سقط جنین
عمل غیرقانونی پیژندل شویدی
سقط جنین په شوروی اتحاد او په
ټوله ختیځه اروپا کی بېله ختیځ
المان او البانیا څخه یوقانونی

عمل دی سقط جنین په داسی
هیوادونو کی لکه جاپان
د تولیداتو په تقلیل کی یو
مهم عامل چی پخوا تر
جګړی وړ زیات وه پیژندل
شویدی .

اوس د دغه هیواد
تولیدات بېله امریکا څه په
یوه کښته مرحله کی دی .

همدغه راز سقط جنین
دیولږ شرایطو لاندی په
ولسی چین کښی هم
قانونی پیژندل شوی دی

اواوس هم یوسلسله خبری
جریان لیری څه ؤ چی دغه
کار په هند کی هم قانونی
شی .

نن ورځ په ترکیه یعنی
په هغه ځای کی چی دوه
کاله پخوا دعدم بهره وری
د لارو څخه استفاده غیر

قانونی وه دهغه هیواد د
روغتیا دوزیر د اظهاراتو
له مخی دخلورو حامله ؤ

ښځو له ټل څخه ئې یوې
وسقط جنین ته اقدام کړیدی

په لاتینه امریکا کی چی د
روحانیونو د اختلاف له امله
دعدم بهر وری سرویسونه
حکومت وځنډول نن ورځ
سقط جنین رواج شوی دی
که څه هم هیڅ سړی

ددغو اشخاصو شمېر په واقعی نه
پوهېږی مګر د هغه ځای
روغتونو خپلی یو پرځلور او

حتی نیمایی بستری د عضوی
ناروغانو (سقط جنین) ته تخصیص
ورکړی دی یو پروفیسر څرګند
وی چی نن ورځ سقط جنین، په

ډېرو هیوادو کی په پټ او ښکاره
ډول سره جریان لری او البته کوم
وخت چی خلک له دغی وسیلی

څخه استفاده کوی ګرانه ده چی
کورنی پروګرامونه دی په
صحیح ډول سره تطبیق شی .
مخ پرانکشاف روان هیوادونه

هروخت که وغواړی چی د نفوسو
دزیات والی په تیره بیا په یو یا
د وو وروستیو پېړیو کی مخ
نیوی وکړی کولای شی ګر په
دی کار کی د مترقی هیوادو او
د ځنو بین المللی موسسو کو-
مکونه شرط دی .

که څه هم د غنی هیوادو
کومکونه پدې کار کی په یوه
زیاته پیمانه صورت نیسی نو که
دغه مرستی د اقتصادی معاونتو

سره مقایسه شی ناچیزه دی
کومکونه باید شامل پر تربیه د
فنی او نیم فنی اشخاصو د
متخصصینو تربیه، طبی بیالوژی
ساینس اجتماعی علومو او همدغه
راز د کلنیکونو پرودانولو او زیات

نور په ۲۳ مخ کی

د خندا !!! یاوتل

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

د مور مېړه

یو زوی خپلی مورته چی ډېره بدرنګه ، شرېره اوتل به ئې دشکایت خولـه خلاصه وه وویل :

موری! پوهېږم چی مېړه غواړی اوترڅو چی ته مېړه پیدا نه کړی له خپلو شکایتو څخه به لاس وانه خلی . فلانی ډوند مؤذن بـه خبر کړو چی تا په ماینه توب قبوله کړی .

مور ئې ورته وویل : ته چی داسی خیال لری نو ډوند څله راته انتخابوی ؟

زوی ئې ورته وویل: که ډونـد نه وی، بل څوك به دی ونه غواړی .

✿✿✿

د زېږېدو ځای

یو غل نیول شوی او قاضی ته را وستل شو قاضی دهغه د نامه پوښتنه کړی ورته وئې ویل :

قاضی: د څو کالو یی ؟

غل : د (۳۵) کالو .

قاضی: تراوسه څو پلا بندی شوی یی ؟

غل: لس پلا .

قاضی: لو مـړی پلا څـه وخت بنـدی شوی یی ؟

غل: پنځه دیرش نیم کاله دمخه .

وروسته قاضی ورته وویـل: درواغجنه! تا خو ویل؛ زه د پنځه دیرشو کالو یم، غله ورته وویل : هـو دغسی ده ، یعنی پنځه دیرش نیم کاله پخوا زه د مور په نس وم، چی مور می په بندی خانه کی بندی، او زه هلته زېږېدلی یم .

وروسته قاضی مأمورینو ته مخ ورګرزولی ورته وئې ویل ځی، دغه ځوان خپل (مسقط الراس) یعنی د زېږېدو ځای ته بوزی .

✿✿✿

نوکر

یو چا خپل نوکر ته داوصیت وکړ چی هر کله په هر کار پسی ځی باید دوه کاره وکړی هغه هم تل د خپل بادار د هدایت سره سم د یوه کار په عوض کی دوه کاره کول، یوه ورځ ئې بادار ناروغه شو، بادار و نوکر ته وویل: چی ولاړ سه ډاکټر راته راوله، نوکر ولاړ، ډاکټر، د مسجد ملا، مرده شوی، قبرکن ئې ټوله یو ځای ورته را- وستل بادار پوښتنه وکړه ؛ چی دا څوك دی ؟

نوکر وویل : دا یو ډاکټر دی چی ستاسی تداوی وکړی دوهم نفر ملا دی که ته نسوی جوړ یاسین شریف به در باندی ولولی او ستا د تکفین ترتیب به و نیسی دریم سړی مرده شوی دی چی بیا غسل در کړی او څلرم نفر قبرکن دی چی قبر در ته وکینی .

(د ۲۱ مخ پاته)

والی همدغه ډول د لوجنتیك د موسسو سره کومکونه داطلاعاتی موادو مجهز کیدل او تربیوی پروګرامونه دغه راز ضروری دی دغه لنډیز په نظر کی نیولو سره هغه څه چی وویل شول دوه ډوله عدم متوافق لیدل کیږی . یود نفوسو دزیات والی دمخنیولو سوال اوددغی مفکوری منل او بل دغه سوال چی ، آیا لازمه اقدامات ددغه امر د پرمختګ دپاره موجود دی که نه ؟ دافریقا په ډیرو نیم صحرائی هیوادو اولاتینه امریکا کی دفامیلی اصلاحاتو دپروګرامونو پرضد خاص بیا دهغوی په رسمی خلکو کی لیدل کیږی ددغه کار یوازنی علت د عقایدو حکمرانی او پخوانی نظرې دی چی د نفوسو زیات والی پر نیك فال باندی نیسی ، ډیر مشران ددغو هیوادو پدې عقیده دی چی پر آبادو سرسبزو مځکو او پراخو دښتو کی دزیاتو نفوسو ډیرښت لازمی دی پردی اساس نو هغوی دپخوانیو عقایدو لاندی اودزراعت څخه پر زاړه سیستم په استفاده سره هیڅ وخت دغه حقیقت نه قبلوی چی د نفوسو کمیدل داقتصادی چټك تیا ، تعلیم او تربیه ملی سعادت او ملی قدرت دا مفهوم ورکوی داهم باید وویل شی ترهغه وخته چی دغه اشخاص دقدرت څښتنان وی حکومت خپل او پروګرامونه شی کولای چی عملی کړی لدی جهته نو ددغو هیوادو حکومتونه غټ فعالیتونه لکه دطبی موسسو دصحی او محلی ځانګو تاسیس کیدل چی البته د هغوی پرمخ تګونه دماشومانو دصحت اودکورنیو روغتیا اودحاملهګو مینو چی په ښه کیدو پوری محدود اومقیددی لکه څنګه دنفوسو دزیاتوالی مخه نیول بیله کوم شك څه نامطلوبه اثرونه وار د وی مګر زیات شواهد شته چی دغه وضعه موقتی دهاوډیرژر بنائی چی له منځه ولاړه شی .

(بای)

فلسفی مقولات

فلسفی کنکورکانی د حافی [امین] په قلم :

ضرورت او تصادف

زموږ په شاوخوا محیط کی څه فینومینا (پدیدې) چی پیښیږی په آسانی سره دهغو توپیر لیده کیدای شی . ځینی ئې حتماً پیښیږی که هرڅومره سوچ وشی دهغو مخه نه نیوله کیږی . لکه داچی لمر راخیژی او پرېوزی . ځینی نورې فینومینا بل ډول دی ، لکه داچی سړی په لاری ځی او پښه ئې ویالې ته ښوئیږی او خوږ کیږی خودغه پښه حتماً پیښیدونکی نه وه که چیری دغه سړی فکر ښه په سر کی نیولای و او په احتیاط سره په لاری تلی ، کیدای شوای چی دغه څه ورته نوای پیښ شوی ، که چیری دغه دغه دوه فینومینا (پدیدی) سره مقایسه کړو و به لیدلی شی چی توپیر لری . خو څنګه؟ ددغو فینومینا ترمنځ څه فرقونه وجود لری او کوم مشترك شی لری ؟

همدا ډول په اجتماعی ژوند کی دامپریالیزم په ضد دسوشیلزم دمبارزی دکپیټلستی جامعی دداخلی تضادونو او د آزادی غوښتلو دنهضتو په واسطه په نړۍ کی کپیټلزم حتماً سقوط کوی او ځای ئې سوشلیزم نیسی که امپریالیزم هرڅومره هلې ځلې وکړی د خپل ړنګیدلو مخه نسی نیوای ، په بل مثال کی ، دنړۍ ټولی مترقی اوسوله خوښوونکی قواوې کولای شی چی دپرله پسی مبارزی په اساس دامپریالستی اټومی جګړو مخه ونیسی ، نو ویلای شو چی په نړۍ کی اټومی جګړه حتما الوقوع نه ده ، د مخنیوی امکان ئې (چی دنړۍ دمترقی اوسوله غوښتونکو قواؤ په ګډ کوشش سره سرته رسیږی) او دپیښیدلو امکان ئې (چی د امپریالیزم له ماهیت څخه پیدا کیږی) وجودلری .

موږ ټول پوهیږو که چیری پوه روغ زړی په پستی او مناسبی خاوری کی چی لازم لمدبل او حرارت ولری کښېښودل شی زرغون کیږی خوښایی چی دغه تازه بوټی دسختی ژلی په واسطه له منځه لاړ شی .

آیا دغه دواړه پېښی (دزړی زرغونیدل او دهغه ژلی وهل) ضروری دی؟ یوې فینومینون پدیده ته چی ترځینی شرایطو لاندی حتماً پېښیږی ضرورت وایی: په پورتنیو مثالو کی دلمر ختل او لویدل چی دمځکی او لمر دارتباط په شرایطو کی حتماً واقع کیږی، په نړۍ کی د-وشلیزم بریالیتوب چی دخلکو دسترو مبارزو پواسطه سرته رسیږی، او زړی زرغونیدل چی په مناسبو شرایطو کی حتماً سرته رسیږی ضرور تو نه دی ضرورت دتکامل کوونکی فینومینون (پدیدی) له ماهیت څخه پیدا کیږی، دپوې معین فینو-مینون لپاره ثابت او مستدام وی .

تصادف هغه فینومینون (پدیده) ده چی د پېښېدلو او نه پېښېدلو امکانات ئې وجود ولری لکه په ویالی کی دسړی لویدل، داټومی جګړې پېښېدل، او دبوټی ژلی وهل داسی فینو مینا (پدیدی) دی چی د پېښېدلو او نه پېښېدلو امکانات ئې وجود لری تصادف دیو معین شی له ماهیت څخه نه پیدا کیږی، غیر ثابت او موقتی وی، خو تصادف بېله علت څخه نه وی، علت ئې په څپله په شی کی ننه نه بلکه له هغه څخه د باندی، په خارجی شرایطو کی وجود لری، پداسی حال کی چی دضرورت علتونه پخپله دشی دننه، د هغه په داخلی ماهیت کی وجود لری .

دضرورت او تصادف پرابلمونه د پوهانو د مناقشاتو موضع ګرځیدلی ده دهغو په هکله دوه ډوله نظریې وجود لری، ځینی وایی چی: په نړۍ کی هرشی ضروری دی، کوم تصادفی شی وجود نه لری، ځینی نور ادعا کوی چی په جهان کی هرشی تصادفی دی .

کومه نظریه صحیح ده ؟

پوه ئې هم صحیح نه ده ، ځکه چی دوی ضرورت او تصادف یو له بل څخه جلا تصور کوی ضرورت او تصادف په ډیالکتیکی ډول سره تړلی دی، پوه پېښه په پوه وخت کی هم ضروری وی او هم تصادفی (په پوه لحاظ تصادفی او په بل لحاظ ضروری وی) .

د ډیالیکتیشنانو برعکس ، متافزیشینان د ضرورت او تصادف له ارتباط څخه انکار کوی ځینی چی هرشی ضروری بولی وایی : کله چی دیو ضرورت علت ښکاره نه وی تصادف ورته ویل کیږی ، ځکه بېله علت څخه کومه فینومینون (پدیده) وجود نه لری دغه نظر چی هر څه ضرورت بولی بالکل غلط دی ځکه سره لدې چی هره کینومینون ځان ته علت لری خو علت ئې چی په شی کی دننه نه وی تصادف دی، سره لدې چی علت ئې پټ نه بلکه ښکاره وی، دمثال په ډول به سړی چی دګاډی په مخ کی ځان اچوی او خوږ کیږی یوه تصادفی پېښه ده سره لدې چی د خوږ کیدولو علت ئې ګاډی ده خو دغه علت د ګاډی په داخلی ماهیت کی پروت نه وو بلکه دغه پېښه دشرایطو محصول ده یعنی علت ئې هغه شرایطو دی چی د ګاډی د حرکت له قوانینو څخه دباندی دی .

ځینی نور فیلسوفان چی یواځی تصادف پیژنی په واقعیت کی غواړی چی دعلم قوانین چی ځینی دی رد کړی، لدې څخه ستر ګی پټوی چی انسان کولای شی چی د حادثاتو جریان درک کړی او دځان لپاره ګټه ورڅخه واخلی دغه ډول پوهان ضرورت د تصادف سویی ته راټیټوی .

په آیلیالستانو کی یواځی هیګل وو چی د ضرورت او تصادف په یو اړخیز مطلقوالی باندی ئې بری وموند خو دهیګل دضرورت او تصادف ډیالیکتیکی ارتباط یواځی دمطلقی

آیډیا له پاره و یوازی ډیالکټیکی مټریالزم وه چی دضرورت او تصادف علمی پیژندنه او دهغو ترمنځ روابط ئې پیدا کړه .

په ډیالکټیکی مټریالیزم کی دټولو فینومینا (پدیدو) دذات البینی ارتباط او تعلق له آمله هره فینومینون د بلی فینومینون لپاره د ضروری یا تصادفی وجود په حیث تصور کیدای شی . نو په هره (پدیده) یا دفینومینا په یو مرکب کی تل دا امکان وجود لری چی ضروری

او تصادفی خواص ئې وښودل شی نو ضرورت او تصادف یو په بل باندی بد لیدلای شی ؛ څه شی چی په ځینو شرایطو کی ضرورت دی په نور و مختلفو شرایطو کی تصادف دی او

بالعکس، دمثال په ډول په ابتدائی جامعه کی دمالو تبادلی یو تصادفی خصوصیت درلود.

څه شی چی به کمیون تولیدول دهغه دغړو په واسطه به په ګډه سره استهلاک کیدل. دشخصی مالکیت له پیدا کیدلو سره دمالو تبادله پراخه شوه چی په کپټیلزم کی یو ضرورت دی .

ددغه څه په اساس چی وویل شوه دمتافزیشنانو دغه دلیل بالکل غلط دی چی وایی: څه شی چی ضروروی تصادفی کیدای نسی، او څه چی تصادفی وی ضروری کیدای نسی .

امکان نه لری چی ضرورت او تصادف سره جلا شی، یو له بل څخه په مطلق ډول جلا نه دی په واقعیت کی ضرورت او تصادف سره یو ځای

وجود لری او یو په بل باندی اثر واردوی په یوې پروسه کی ضرورت د مهم جهته او د تکامل دمیدان په حیث ظهور کوی او د تصادفی فینومینا (پدیدو) په واسطه تکمیلیږی مثلاً، دلیموونه چی په تودو ځایو کی وده کوی یو ضرورت دی .

آما داچی څو څانګی، څو پاڼی او څو مره حاصل ولری په مختلفو شرایطو (لکه خاوره، اوبه، باران، اوداسی نور) پوری ارتباط لری نتیجه داچی دضرورت او تصادف ترمنځ دننه ارتباط وجود لری .

په ژوندانه او په علمی څېړونو کی باید د دضرورت او تصادف عینی ماهیتونه په نظر کی

وی، دعلم وظیفه ده چی په مختلفو خارجی شرائطو کی دفینومینا (پدیدو) ضروری داخلی ارتباطات کشف کړی د عینی ضرورت د مختلفو قوانینو پیژندنه انسان ته دا قدرت

ورکوی چی د طبیعت په مختلفو فینا مینا (پدیدو) باندی د شی تسلط پیدا کړی چی له دغو قوانینو څخه دخپل ځان له پاره ګټی

واخلی د اجتماعی علم وظیفه ده چی د اجتماعی تکامل عینی ضرورت کشف کړی او د

هغه په اساس اجتماعی نظام ته دزیار ایستونکو په ګټه تغیر ورکړی د شوروی اتحاد مشهور عالم میچورین (۱۸۵۵-۱۹۳۵) په هغو علماؤ باندی انتقاد وکړ چی په تصادف باندی ئې اتکا کوله او د تکامل قوانین ئې نه مطالعه

کول هغه ویل چی موږ د طبیعت لطف ته انتظار نسو کښلای، موږ باید هغه ورڅخه واخلو، دا ده دعلم وظیفه .

آیا تصادف ورکیدای شی ؟ نه، تصادف له منځه نسی وړل کیدای خو امکان لری چی نامطلوبی نتیجی ئې اقل حد ته راوستلی شی نو علم هم باید د تصادف څخه سترګی پټی نه کړی ځکه

چی تصادفات د انسان په ژوند باندی نفوذ لری علم باید هغه په نظر کی ونیسی او انسان ورڅخه وساتی .

په مختلفو تاریخی شرایطو کی د تصادف او ضرورت ارتباطهم فرق لری. په کپیټلزم کی د ضرورت عملیه د کپیټلټی مالکیت په واسطه تعیینیږی خلک د جامعی د ژوندانه لپاره

دیلان جوړولو څخه محروم دی ، دوی محض د کپیټلزم په لاس کی نا ئحکی دی . که ته د

مارکیټ د نرخونو د تصادفی عروج او نزول په واسطه صورت مومی چی دغه نرخونه د عرضی او تقاضا په تصادفی وضعی پوری تړلی دی. د کارګرانو وضع هم تصادفی ده ، امکان لری چی په هر ه لحظه کښی بیکاره شی .

په سوشلیزم کی د داخلی قوانینو له آمله خلک کولای شی د تاریخ په راتلونکی جریان باندی پوه شی او ورسره سم د خپل ژوندانه لپاره پلان جوړ کړی. علم هم د سوشلستی جامعی

د ماهیت په اساس چټکتیا سره وده کوی . کله چی د ۱۹۵۷ کال په اکتوبر کی شوروی- اتحاد په تاریخ کی لومړنی مصنوعی سپوږمی

له مځکی څخه چاپیره و توغو له بورژوا پوهانو ویل: چی دا یو تصادفی او یواځنی موفقیت ؤ خو دغی ادعا حقیقت نه درلود وروستیو تجربو هم ثبوت کړه چی دا موفقیت د سوشلیزم د داخلی ماهیت نتیجه وه .

تصادف، چی امکان لری واقع نسی مطالعه کیدی اشی ؟ تصادفی فینومینا (پدیدی) د کومو قوانینو تابع دی؟ د دې لپاره چی دغو پوښتنو ته

ځواب ووایو یو مثال به ذکر کړو . یو نوی کوچنی چی په یو کور کی زوکیږی هلک به وی که نجلی؟ په لومړی نظر کی داسی ښکاری چی دلته قانون وجود نه لری خو د ډیرو کورنیو له مشاهدو څخه ښکاره شوی ده چی

زما امید

ګڼی وریځی یو پر بل پر پوزی او تپاره خپریږی .

آه، اې مېنی ؛ تاولی زه له وره د باندی پکښی یوازی منتظره درولی یم ؛ د غرمی د محنت په شغولو لمحاتو کی زه د ټولنی سره اوسم مګر پد ې توره در بله تنهاورځ کی یوازی ته ئې چی زما امید در پوری تړلی دی .

که ته خپل ځان را ښکاره نه کړی، که ته ماهمداسی یوازی پر ږدی نو زه نه پوهیږم چی د باران دا اوږد ګړی به څنګه تیرسی .

زه د آسمان لپرو تپارو ته ځیر، ځیر ګورم او زړه می در پیدو سره سره په دوك اخته دی .

[تاګور]

دهلکانو او نجونو زو کېدل دغه نسبت تعقیبوی : د هر وسلو نجونو په مقابل کی (۱۰۵) هلکان زوکیږی . ښکاره شوه چی د تصادفی فینومینا (پدیدو) انتظام په یو محدود شمېر مشاهدو کی نه ښکاره کیږی خو په یو لوی شمېر مشاهدو کی دغه انتظام نظر ته راځی دغه انتظام ته احصائیوی انتظام وایی : لدې څخه ښکاره کیږی چی تصادفی فینومیناهم تر مطالعی لاندی راځی . معاصر علوم دغه څه د ضرورت له مطالعو سره ژور مخکی بیایی .

انسان د نامطلوبو تصادفاتو د جریان په مقابل کی بی قدرته ندی هغه کولای شی چی د هغو مخه ونیسی او د هغو تخریبی تاثرات اقل حد ته راټیټ کړی . (زیری)

د هیواد معروف فوکلوریست محمدګل ((نوری))

تقریباً د هرش کاله پخوا هغه مهال چې په پښتو ټولنه کې د پښتو ژبې له پاره کار شروع سو نو د هنري او ادبي

څېړنو په لړ کې د پښتو فوکلور یا اړخ ته هم زیاته توجه موجوده وه دا کار چې څو نه هغه وخت مهم ؤ

نو د زمان په تېرېدو ئې اهمیت ورځ په ورځ لوړ ولاړ او د دې دلیل هم داؤ چې موږ د مهمو مسایلو په څېړنه

کې هغه وخت ښه بریالی کیدای شوای چې د خپلو خلکو د کلتور سره بلد شوی وای .

زموږ هغه محققین چې په کلتوري برخه کې د مطالعې خاوندان دي پدې ښه پوهېږي چې زموږ د

فوکلور په خزانه کې ټوله هغه څه موجود دي چې له هوې خواخه موږ ته د ټولنې په پېژندنه کې

بصیرت راکوي. او له بلې خوا د دغې پېژندنې په برکت موږ ته دا درک رابخښل کېږي چې هغو نه د خدمت

مستقیمه لار پیدا کړو . زموږ فوکلور چې هرچا د حقوقي تعاملاتو پر اساس کتلی دی نو دې نتېجې ته رسیدلی دی چې دلته هر هغه څه د پریمانه لاسه

موجود دي چې یو کلتور پېژندونکی ورته محتاج دی . په هغه وخت کې پښتو ټولنه کې ډېر لوی غنیمت آثار ولېکل شوه او که په فوکلوریک برخه کې د

تحقیق هغه لاری پسې تعقیب شوی وای چې د هغه وخت خلکو اینبې وی نو باور دی چې نن به

موږ ډېر څه درلودای . په هغه وخت کې چې په پښتو ټولنه کې کوم لیکوالان راټول وه هغه نن په داخلي او خارجي سویه د هیواد لوی سیاسي څرخونو ته

حرکت ورکوي او یواځې سړی چې د دغو ملګرو له صحنې څخه غورځېدلی او په ګمنامي کې

کار کوي هغه د هیواد لوی فوکلوریست محمدګل (نوری) دی

دې سړی پوهنه موده په پښتو ټولنه کې کار وکړ او د پښتو فوکلور په برخه کې ئې غنیمت آثار منځ ته راوړل چې متأسفانه تر نن پورې موږ موفق شوی نه یو

چې پرهغو زیاتوب راولو ښاغلي محمدګل «نوری» (ملي هیندار) چې د پښتو شفاهي داستانو مجموعه ده پښتو متلونه، اصطلاحات،

محاورې، سندرې، لوبې نومونه او داسې نورې څه راټول کړل چې چاپ شویدي، او پردغو آثارو اوس په

شوروي اتحاد، المان، انګلستان، هند، فرانسه، جاپان، چین او نورو ځایو

کې تحقیقي علمي مؤسسات کار کوي او دوی ئې زموږ د هیواد د کلتور په معرفي کې غنیمت ذخایر بولي . ښاغلي (نوری) د یو لائق

فوکلوریست په حیث یو وخت په رسمي مأموریت کې د عمومي مدیریت ترڅوکې

پورې کار کړی دی او بیا تقاعدشو خودی وایي چې: ما ته د تقاعد ټوله حقوق یواځې دولس زره افغانۍ راکول شویدي .

تر تقاعد وروسته ئې درېشي وغورځوله سرئې لنډ کړ، بوټونه ئې له پښو وکښه او په پوه کمپس اوبرتاګه کې ئې د کندهار په هرات دروازه کې دوې کوندې یخې اوبو تاغار مستې مخ

ته کښېښوې، څوکاله ئې دغه کاروګړ اوپه‌داسی حال کی چی سپینه ږیره ئې ترځیګر اوسپینی څوڼی ئې تر اوږو اوږدې شوی وی د یو مجذوب الحاله سړی رنګ ئې درلود .

اوس دا ښاغلی د کندهار د اطلاعاتو او کلتور په مدیت کی دیوولسمی رتبی د کاتب په‌عوض کی اجیږدی .

ښاغلی نوری له هغه وخت څخه چی د عمومی مدیریت پر څوکی ناست ؤ بیا تر هغه وخته پوری چی د مستو تاغار ته ناست ؤ او بیا دا اوس چی ئې د کتابت څوکی ته تنزل راکړی دی په فوکلوری برخه کی له تحقیق څخه لاس ندی اخیستی کار کوی خوخپل کتاب او نوټ چا ته نه ورکوی .

کله، کله چی قهرورسی نو د خپل تحقیق ډېر په زړه پوری آثار ئې څېرلی او غورځولی دی .

همدا اوس چی زه د ده د ژوند ناظریم نو لکه په پښتو فوکلور کی چی څه خپاره سویدی هغو نه څوشیه ورسره دی خو پدې می پوره باور دی چی دا د څېړنی غنیمت ذخیره به هم داوریا او بو شومه شی داچی ولی زموږ دا محقق سړی دې حال ته رسیدلی دی چی داویا کالو په عمر کی د خپل ژوند سرمایه په اوراو اوبو کی غورځوی؟ ددې سوال جواب دی زموږ اجتماعی سیکولوجستان راته ووایی ؟!! (زیری)

د هوا مرغه

پورته او پورته ...!
لکه داور لوګی ... د

مځکی څخه لوړ ...! لکه چی ستوری په ورځ نه ښکاریږی ...!

سورشفق هم ستادالوتو ولمبی ته و یلیږی ...!

پورته الوزی او سروز کوی ...! سروز کوی او پورته پسی الوزی .. اوس خونه ښکاریږی ..!

ستاږغ پر مځکه اوهوا پروت دی ... ! لکه چی په توره شپه د سپوږمی وړانګې هرې خواته خپریږی .... ستاږغ هم هر ې خواته پروت دی .. !

زه خوستا سروز ته لیونی شوم ...!

ځکه نو وایم ... چی ما هم په خپل سروز پوه که .. ! خپله نیمایی خوشحالی راکه ...!

چی زما ږغ ته هم ...!
خلګ حیران شی ...!

[شیلی]

د عبدالقوی (هادی) قلم کنه:

ژوند

ژوند په دوو ادبی پارچو کی:

۱) په نړۍ کی په هرچا باندی ډول، ډول حالات راځی، چا ته ژوند دزهرو یو ډک جام وی چی په ډېر تکلیف ئې نوشوی ؛

باالعکس چا ته همدغه ژوند د شرابو یو اوښی دی چی په نڅا (رقص) سره ئې څکی، بعضی شپې دلوږی دمرګ په خواهش سبا کوی، ځینی خپل خوړ لی

هضمولای نسی، دغه رنګه بعضی ئې دلاس په تنا کو ګټی خو دخپل ژوندلازم اسباب برابرولای نسی باالعکس بعضی ئې دظلم، استبداد دلاری په خوشحالی سره تیروی.

سره د دومری سختیو خوشبخت پخپل ژوند کی هغه څوک دی چی په قوی زړه په هرځای کی د سختیو، نرمیو تودو، سړو په مقابل کی لکه غرولاړوی .

۲) ژوند عیناد پوې خوږی چینی او به دی څوک ئې دزرو په جام کی څکی او څوک ئې د خاورو په کنډولی کی، هغه خلګ چی نه دالری او نه هغه په لپو ئې را اخلی په اوبو کی څه فرق نسته فرق په لوښو سره کیږی دبلای او خوار تو پیر په لوښو کی دی .

لاکن داوبو په خوند هغه څوک ښه پوهیږی چی ډېر تږی وی .

ادبي ټوټه .

د آلفرد دوموسه لېکنه :

د [متين] خوږيا نې ژباړه

شـــــــپه !!

اې شاعره، خپل چنګک دی واخله او رانژدی شه چې ښکل دی کړم، د نسترن ګلو نه ورو، وروغوړ پړی، ځکه چې نن شپه پسرلی خپله ښکلا له بل هر وخت نه ښکلی ځر ګند وی .
نن ورځ دلمر پر پوتل له بل هر وخت نه په ډېره مېنه او عاشقانه توګه دلوړو ونو د پاڼو او ښاخونو سره خدای پامانی کوی .
نن شپه ګرد بوټی او ګلان ښکلی طبيعت غواړی اودا آرزولری چې دهمېش لپاره وغوړ پړی او ښکلی طبيعت به په زړونو کې لاره پيدا کړی او د ښځې او ځوان مېړه پالنګ به په عطر واود مينې په سوز پدلی زمزمی ولړل شی .
اې شاعره خپل چنګک تر څنګک کړه ځکه چې نن د ځوانۍ هوسونه دنړۍ په رګونو کې په جوش راځی ځکه چې د هوسونو له تودوخې څخه خمار پراته دی .
اې شاعره خپل چنګک ته لاس کړه، څنګه ښه دی وپېژندم دازه يم هوزه د (شعرالهه) اوستا ابدی محبوب يم چې نن مې ته غلی او مړاوې تر نظر راغلی . هو- زه يم ستا دژوند جاودانی ملګری چې له لوړو آسمانو څخه مځکې ته راغلم تر څو ستا سره يو ځای وژاړم .
اې شاعره، پورته شه او خپل چنګک له يادمه باسه ځکه چې تر دی وروسته د چپ کېدو حوصله نه لرم، ته نه ګوری چې د پسرلی نازکې وږمې زما وزرونه په حرکت راوستل پوه شېبه وروسته به ما له دې ځای څخه پورته کړی او د مځکې له فضا څخه به مې لوړ بوزی .
آخر او ښکې تويې کړه، چيغې اوسوزناکې کوکې شروع کړه او که نه وخت به تيرشی .
اې شاعره !
دا ګومان هېڅکله ونه کړی چې دغم او اندېښنې د ښکلا د درک کولو له پاره غلی او چپه خوله کښېنی ځکه چې ته بايد دا ومنی چې له ټولو خوږو او ښکلو نغمو څخه هغه نغې ډېری ښکلی او خوږې دی چې له ناامیدۍ څخه ډکې وی .

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR: ZALMAI 'BARAK'

(FEBRUARY) 1968

GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه

مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار

میاشتنی خپرونه

تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹

د ۹ کال یو ولسمه ګڼه د ۱۳۴۷ کال د سلواغی میاشت

پر له پسی ګڼه ۱۰۱

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

د هیواد په داخل کی [۳۲] د

په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د کندهار دولتی مطبعه